محمد ایـاز نـوري

۱۸ اګست ۲۰۰۹



## د انـګریـزي استعمار ښخه د ګـران افغانستان

## د خـپلواکی د نـیویمي کلـیزې په ویـاړ

آزادي پالو افغانانو!

په دې وسیله زمونږ د هیواد تاریخي افغانستان د ویاړمن تاریخ په بهیر کې، د یوې ارزشمندې ورځې او عظیمې پیښې ته په درنښت، تاسو هر یوه ته مبارکي وایم. دا ستره ورځ د ۱۲۹۸ هجري لمریز کال د زمري (اسد) د میاشتې ۲۸ د ۱۹۱۹ م کال د اګست ۱۸ نیټه ده. دا هغه یوه تاریخي او نه هیرېدوونکې نیټه ده، چې د افغانستان هیواد پال ملت په یوه اتفاق، د خپل محبوب لارښود اعلیحضرت غازي امان الله خان په مشرۍ، نه په عذر او زاریو بلکې د سر او خپلو وینو په ورکولو، یعنی د تودې جګړې په ترڅ کې د هغه وخت زورور نړیوال امپراتوري قدرت د میز تر شاه کیناوه او خپله بشپړه سیاسی خپلواکي یې رسما پرې لاسلیک کړه.

د افغانستان آزادي پال ملت هر کال دا ویاړمنه ورځ ځکه په مینه او درنښت سره یادوي، چې دا ملت خصلتا حریت پال او ملي غرور لري ، له ځان ښخه لوړ نه زغمي، نه سر ورته ټیټوي او نه یې مریتوب قبلوي. دلته ده چې استعمارد زور د استعمال ښخه په مایوسي، بیا د **توطئې تیوري** ته مخه کړې او تر دېره خپل مرام ته که څه هم په موقتي توګه، خو رسیدلی دئ. زمونږ یو تاریخی او مکار دښمن انګریزي استعمار لومړی ځل په کال ۱۸۳۹میلادی کې زمونږ په هیواد یرغل وکړ، چې د افغان ملت د مبارزې په نتیجه کې ناکام او په ۱۸۴۲ م کال له هیواده وشړل

شو. دوهم یرغل یې د کال ۱۸۷۸م نه تر ۱۸۸۰م پورې دوام وکړ، چې بیا هم د دې خپلواکۍ پال ملت د کلک سوک په ذریعه بیرته برتانوی هندوستان ته په شاه شو. اما د افغان او انګریز دریمه جګړه چې د استقلال په جنګ مشهوره ده، ځانګړتیا یې پدې کې ده چې دا عادلانه یرغل په غاصب دښمن باندې لومړی افغانانو د خپل یو ملی اتل اعلیحضرت امان الله خان په مشرتوب د خپلې سیاسی خپلواکۍ د بیرته اخستلو لپاره پیل کړ.
د ۱۹۱۹ م کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۳ نیټه کله چې شهزاده امان الله خان د خپل پلار امیر حبیب الله خان د وژل کیدو څخه پس رسما د افغانستان بادشاه شو، پنځه ورځې پس یعني د فبرورۍ په ۲۸ نیټه یې افغان ملت ته لاندې خطابه ورصادره کړه:
**اې د افغانستان معظم ملته! زه د خپل د پلار د شهادت په وخت په کابل کې د پادشاهۍ د مقام وکیل وم او اوس دغه دروند ملی امانت متوکلا او د الله پاک په نصرت په غاړه اخلم. کله چې زما ملت دغه شاهی تاج ماته را په سر کړ، ژمنه مې وکړه، چې افغانستان لکه نور مستقل نړیوال قدرتونه یو مستقل او خپلواک هیواد اووسي. افغان ملت په د ننه او بهر بشپړه آزادي ولري، او سیوا د هر تیرې څخه خلک باید یواځې د قانون متابعت وکړي. له دې شیبې اجباری کار او بیګار منع دې، زما حکومت هغه څه کوي، چې زمونږ ملت او هیواد وکړای شي، د نورو قوی دولتونو په کتار کې خپل مناسب موقعیت حاصل کړي.د ملت په چارو کې به مشوره کوم.**
**پر ما ګران ملته! د خپل دین او دولت او هیواد په حفاظت کې هوښیار اووسی. زه له لوی الله څخه تاسو، اهل اسلام او ټول بشریت ته د خیر او سوکالۍ استدعا کوم.** (غبار مخ۷۵۲)
اعلیحضرت امان الله خان د ۱۹۱۹ م کال د مارچ په ۳ متجاوز انګریز ته د خپل هیواد د سیاسی خپلواکۍ د تصدیق لپاره لیک ولیږه. لیکن انګریز دا لیک ته اهمیت قایل نشو. رښتني آزادي غوښتونکي باچا د اپریل په میاشت کې پوځې سوقیات د جنوب په طرف پیل کړل. په دښمن باندې د تعرض لپاره درې استقامتونه لکه: خیبرد جنرال صالح محمد خان، چترال د جنرال عبدالوکیل خان او لوی خان میر زمان خان، پکتیا اوخوست د جنرال نادر خان او ورسره خان ببرک خان ځدران او قندهار د سردار عبدالقدوس خان د قوماندانیو سره تثبیت شول. افغانی قواء د مې د میاشتې په دریمه نیټه د خیبر په مورچل کې د جنرال صالح محمد خان تر قیادت لاندې لومړنی یرغل په انګریزانو ورپیل کړ. دې نابرابرې جګړې په مجموع کې یو میاشت دوام وکړ، که څه هم سیواء د ټل د جبهې نه نورو جبهاتو د ټاکلې مرام سره پر مختګ ونکړ، خو چون دښمن د افغانانو سره د دوو تیرو جګړو څخه سخت ډار له ځانه سره لاره، نو یې اعلیحضرت امان الله خان ته د اوربند درخواست وکړ، پاچا د افغانانو د زیاتو وینو تویدو د مخنیوې او د دیپلوماسۍ د پلان پر بنسټ انګریزي دولت سره اوربند ومانه او د جون د میاشتې په دریمه نیټه دا اوربند د فریقو تر منځ لاسلیک شو. نتیجه د جنګ د ګران افغانستان د مکمل سیاسي استقلال د حصول سبب شوه. اما د افغانستان متباقي غصب شوې خاوره یعني د چترال څخه تر ګوادر پورې، پښتونستان او بلوچستان لا هم د برتانوي استعمارچیانو تر ولکې لاندې پاتې شوه. دلته داسې نظریات موجود دې، چې غازي اعلیحضرت امان الله خان او مشاورینو یې د وضعیت او خپل جنګي وس د ارزیابۍ څخه پس، پلان لاره چې په لومړي سر کې به موجوده افغاني جغرافیه له غلیم څخه آزادوي او په تعقیب به یې په بل پړاو کې د دیورند پورې غاړه افغانی خاوره باندې به په غالب ګمان د خبرو له لارې موضوع حل کوي. د دې حساسې مسلې په باب د مرحوم غازي امان الله خان یو وراره، جناب سردار کبیر الله خان سراج چې اوس هم حیات دی، لاندې توضیح لري:
**په کال ۱۹۵۱م کې زه ایتالیا ته د خپل کاکا اعلیحضرت امان الله خان د لیدو لپاره ورغلم، او ټول ۴۲ ورځې د هغه غازي سره په کور کې وم. غازي اعلیحضرت د افغاني غصب شوو خاورو په باب داسې وفرمایل: کله چې زه په ۱۹۲۸ م کال کې د خپل اروپایی سفر په ترڅ کې انګستان ته ورسیدم، ما د افغانستان د یوه غالب او مستقل بادشاه په توګه انګریزي دولتی مقاماتو سره په رسمي کتنو کې هغوی ته وویل: پښتونستان یعني د دیورند د کرښې هغه خوا خاورې د افغانستان حدود دي او تاسو باید دا منطقې مونږ ته بیرته را تسلیم کړئ!! انګریزي اړونده مقاماتو ما ته وویل، چې مونږ دا موضوع منو او دا بهیر وخت غواړي. په دې اړه مو یو تحریري سند هم مبادله کړ او سند زما د دولت تر وروستۍ شیبې پورې په بهرنیو چارو وزارت کې موجود وه.** په تعقیب جناب سراج وایې: زما د استوګنې پر وخت په روم کې، ما د غازي اعلیحضرت یو فوټو د پاچا محمد ظاهر سره ولید، چې ظاهرشاه د لاس په اشاره غازی امان الله ته څه وایی...! ما خپل کاکا نه وپوښتل، چې د دې فوټو په باب که تشریح ورکړي! غازی امان الله خان وفرمایل: **کله چې ظاهرشاه یو وخت روم ته په سفر راغلی وه او زما سره یې ملاقات لاره، په همدغه صحنه د فوټو کې ما هغه ته وویل، چې هغه د پښتونستان د مسلې اړوند سند چې ما د خپل اروپایی سفر پر وخت له انګریزانو څخه اخستی او په بهرنیو چارو وزارت کې قید وه، هغه اوس چیرته دی؟ ظاهرشاه د لاس په اشارې سره وویل: د څه شي سند؟ داسې سند په هغه وزارت کې نشته..!؟.**(شفاهي توضیحات)
په هرحال، له قراینو داسې تحلیل کیدلای شي، چې غازی امان الله خان د محکوم پښتونستان خاورو ته متوجه وه او زه عقیده لرم، که د هغه غازي خپلواک دولت سقوط نه وای کړی، غصب شوې خاورې به بیرته افغانستان تر لاسه کولې. که مونږ د هیواد نژدې تاریخ ته نظر واچوو، په ۱۹۱۹ م کال کې د اعلیحضرت امان الله خان غوندې یو ملی او ترقی پال شخصیت پاچا کیدل او بیا د افغانستان د سیاسی استقلال تر لاسه کول، دا پخپله یو عظیم او خورا مبارک پیل وه. په ۱۳۰۳هجری کال کې د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره اساسي قانون جوړ شو. څه د پاسه ۷۸

نظامنامې د افغانانو د ټولنيز ژوند د قانوني کولو او منظمولو لپاره تصويب شولې. په امانی دور کې د هيواد اقتصادی حالت هم سلامت او حتې قوی وه، کبير الله سراج وايی: په امانی لس کلن دور کې هيواد په ځان بسيا او بهرنی مرستې بالکل افغانستان تر لاسه نه کړې، افغانستان په يوه نوبت کې ۱۳۰۰۰ ټنه غله د روسيې شوروي دولت ته د هغوی د احتياج پر اساس د مرستې په نوم وړيا ورصادره کړله.(شفاهي توضيح)
ملت د خپل ملی قهرمان تر قيادت لاندې د ترقی نوی پړاوونه ورپسې وهل. اما تاريخی دښمن انګريز يوه شيبه هم کرار نه وه او هر هغه څه يې چې له لاسه پوره کيدل د غازی امان الله خان د نابودئ لپاره يې پکارول. لومړی يې په ۱۹۲۴م کال دوه اجنټان لکه ملا رشيد او ملا عبدالله په پکتيا او بيا په ۱۹۲۸م کال کې د ننګرهار د شينوارو بغاوت او ورپسې په دسمبر او جنوری د ۱۹۲۹-۱۹۲۸ م کال د سقوي شورش، د همدغه تاريخی دښمن انګريز په ابليسي لاسونو عملی شول. چې بالاخره امانی دولت چې د هيواد د بهترينو بچيانو د وينې په بيه رامنځ ته شوی وه، د ۱۹۲۹ م کال د جنوری په ۱۴ له سقوط سره مواجه او له منځه ولاړ. البته بايد ووايم، چې انګريزی نړيوال استعمار د امانی دولت په لس کلن شتون کې هيڅ وخت جرأت ونکړ، چې مخامخ په غازی امان الله خان ورشي او له منځه يې لرې کړي، بلکه د توطئې د تيوري پر بنسټ يې هغه لوی وطنپال افغان زعيم د شاه له خوا په کاري تبر وواهه. د توطئې پلان داسې وه، چې لومړی به د هيواد په ختيځ کې مشکل جوړ کړي، شاه طبعا د پايتخت پوځې قواء شرق ته سوق کوي او مرکز په دفاعی لحاظ ضعيف کيږي. بيا به د خپل بل لاس پوځې يعنی حبيب الله بچه سقو، په ذريعه د شمال له خوا په کابل يرغل کيږي،او امانی دولت به له منځه وړي. د سياسي قدرت تشه يا خلا به ايجادوي، په دې عين کې به ملت په شوک کې لوېږي، او خصوصا د افغانستان لوی قوم (پښتانه) په هيڅ ډول دا حالت نه زغمي. تر څو په لوی مهارت سره خپل اصلي او دايمي اجنټ جنرال نادر خان د جنوب (پکتيا) له لارې افغانستان ته ورداخل کړي، او د امان الله خان پر ځای يې نصب کړي، او د افغانستان له خوا د ټل لپاره ځان بيغمه کړي. پس کله چې مونږ تاريخی بهير ته ګورو، ماهر دښمن دا پلان کټ مټ قدم په قدم پلي کړ.







له دې چې دلته ذکر د دوو لويو ملی مجرمينو غله حبيب الله او نادر خان راغی، غواړم د سقوي حرکت په باب ووايم چې، دا پاڅون په هيڅ وجه د امانی دولت پر ضد د اسلامی اصولو د تخطی لپاره نه وه، بلکې دا کاملا يو **قومی**

حرکت وه. افغان لیکوال فضل غنی (مجددی)، په خپل کتاب (افغانستان در عهد اعلیحضرت امان الله خان) په-۲۸۲-۲۸۳ مخونو کې داسې لیکي: کله چې غازی امان الله خان د بادشاهی مقام د ۱۹۲۹ م کال د جنوری په ۱۴ نیټه خپل ورور عنایت الله خان ته ورتسلیم کړ، نوي بادشاه یو هیئت د حضرت صادق مجددی او سردار عثمان خان په مشری د مذاکرو لپاره حبیب الله ته د کابل د باغ بالا سیمي ته ورواستاوه. د هیئت مشر صادق مجددي لیکي: ،، باغ بالا ته نژدې مې د امان الله خان یو ورورامیر عمر جان ولید، ومې پوښتل، چیرته تلي واست؟ هغه وویل: د امیر صاحب؟ حبیب الله د بعیت لپاره تللی وم، پداسی حال کی چې د سقو زوی لا رسما شاه نه وه اعلان شوی؟؟. دا حضرت مخکې لیکي: **د باغ بالا د قصر د دروازې ته په رسیدو مې د انګلستان د سفارت شرقي سکرتر ښاغلی محبوب علي خان ولید، چې د قصر څخه د وتلو په حال کې وه...؟! ډېر پریشان شوم.** د قصر د ننه ولاړم، حبیب الله بچه سقو زما د درنښت لپاره له ځایه پورته شو، او وې پوښتل: حضرت صاحب! پدې خطرناک وخت کې دلته څنګه راغلې؟ ما وویل، چې امان الله خان استعفاء کړې او ورور یې عنایت الله خان پاچا شوی دی. حبیب الله ساکت وه، حضرت عبدالحلیم جان مجددی چې د بچه سقو مرشد کیده، وویل: **د محمد زایانو کورنی سل؟ کاله حکومت وکړ، اوس د غیر پښتون قومونو وار دی، چې حکومت وکړي، آیا نور نوبت نلري، چې په افغانستان کې حکومت وکړي...؟!،،**
پس دلته په واضح توګه ګورو، چې مسله د غازی امان الله خان د کفري اصلاحاتو؟ پر سر نه بلکې د قومي نوبت؟ د توطئې پر بنا انګریزانو د داخلي خاینانو سره مطرح کړې وه.



Bundesarchiv, Bild 102-05499
Foto: o.Ang. | Februar 1928

د نادر شاه د افغان دښمنه شخصیت په باب زما پلار د افغان پوځ پخوانی لیوامشر مرحوم نورالله خان خوستي خپله یوه خاطره داسې بیانوله: « دا ۱۳۱۱ هجری شمسي کال وه، زه ۱۵ کلن او د کابل د حربیي مکتب مقیم د (شهر آرا) محصل وم. یوه ورځ د وخت بادشاه نادر خان د معاینې او کنترول لپاره زمونږ ښوونځي ته تشریف راووړاو مستقیما زمونږ تولګي ته را داخل شو. هغه پوځي یاورانو بدرقه کاوه. مغرور او ناآرامه معلومیده. له قسمته په صنف کې یې ماته ګوته ونیوه. زه تیارسی شوم او پس له ځان وروپېژندلو.... د پکتیا د ولایت څخه طلابه امر ته حاضر یم...! **بادشاه وپوښتل، البته په دری ژبه: مونږ پنځه د بیه غوړي لرو، چه هر دبی پنځه پاوه غوړي لري، تول مونږ څومره غوړي لرو؟ ما د پنځو ضرب زبانی تیره کړه او ومې ویل: صاحب مونږ تول۲۵ پاوه غوړي لرو!!، نادر شاه په تمسخر سره خپلو یاورانو ته مخ کړ او وې ویل: ایرا ببي، دیروز از کوه (پکتیا) تا شده، آلي باز ضرب زبانی را هم یاد ګرفته... او ورپسې له تولګي څخه خارج شو.؛؛** (شفاهي توضیح)
دا پداسې حال کې چې د همدې وحشي (د اعلیحضرت نادر خان په قضاوت)، د پکتیا خلکو د خپلو بچو په قربانولو، دې ناخلفه پادشاه ته تاج او تخت تقدیم کړې ول. په هر حال، په دې صورت د افغانستان باتور ملت مفت او وړیا خپل یو لوی قهرمان او سیاسي زعیم غازي امان الله خان د تاریخي دښمن انګریز او د افغانی ملی خیانت ګرو په مستقیم ګډون د تل لپاره له لاسه ورکړ، او نتیجه یې تر نن پورې هر وطنپال او خاین افغان د سر پهٔ سترګو ویني.
**زما په تحلیل افغانستان د ۲۰ پیړۍ څخه تر نن پورې یواځې لس کاله یو خپلواک او د خپل ملی حاکمیت خاوند وه، چې غازی اعلیحضرت امان الله خان یې بادشاه وو. د امانی دولت د سقوط نه پس، انګریزانو د ریښخند حبیب الله بچه سقو، نادر خان او ظاهر شاه په وجود کې، ورپسې روسي سوسیال امپریالیزم د سردار داوود خان، نور محمد**

**تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل او نجيب الله په ذريعه، په تعقيب يي، بيا تاريخي دښمن انګليس دا وار شريک د امريکا او روسي امپرياليستانو سره، د صبغت الله مجددي، برهان الدين رباني، محمد عمر آخند او حامد کرزي په وجود کي پر مونږ افغانانو حکومت چلولی دئ.**

درنو افغانانو! د ګران افغانستان جاري مصيبت د پورتني تاريخي پسمنظر قانونمنده نتيجه ده. دا له تصوره وتلي کرغيړنه ورځ **بايد** په افغانستان راغلې وای، تعجب مه کوئ!! د دې جاري لويې بربادئ د راتګ لپاره تيارئ، د امانی مستقل دولت د سقوط له شيبې څخه د غوايي د کمونيستي پوځي کودتا پوري نيول کيده، چي لومړنی مسؤول يي حبيب الله بچه سقو او په دوام يي اساسي زمينه جوړونکي د نادري کور، چي پخپله نادر شاه ، زوی يي ظاهر شاه، هاشم خان، شاه محمود خان، داوود خان او نعيم خان په دې بهير کي لوی مجرمين ګڼل کيږي. البته انګريزی استعمار ګرو هغوی پوی کړي ول، چي افغان ملت تاسو بايد وړی او ډير جاهل وساتی، که دا آزادی دوست ملت په نس موړ او سياسی پوهه يي تر لاسه کړه، ستاسو څخه هرومرو خپل لوی غازي، امير امان الله خان غواړي...!؟ نادري کور ۴۹ کاله يعنی نيمه پيړی په مونږ افغانانو حکومت وکړ. همدا د خلق او پرچم ملت پلوروونکي او افغان وژونکي او د جهادي؟ تنظيمونو اسلامي شياطين د همدې خايني او افغان دښمنه کورنی له نس نه د نيمي پيړي په بهير کي راوزيږيدل. بالاخره د هيواد سياسی حالات د استعمار او افغاني قاتلانو په ذريعه په پلانيزه ډول داسي وضعيت ته ورداخل شول، چي د امريکي د متحده ايالاتو امپرياليستانو او تاريخي دشمن انګريز، **د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر د مياشتي په ۷ نيټه د تروريزم سره د مبارزي تر بهانه لاندي په کاملا غير قانوني ډول**، بيا زمونږ په هيواد او ملت باندي پوځي يرغل وروړ او بيا يوه بله لويه غميزه په حاد شکل کي پيل او تر نن پوري دوام لري. وروسي شړل شوی د هيواد وروستئ بادشاه محمد ظاهر د ۲۰۰۲ کال د اپريل په مياشت کي د استعمار په مستقيمه رهبري د ايټاليا د هيواد څخه افغانستان ته انتقال او ورپسي يي له دې چي زمونږ حقيقي ملی اتلان لکه: ميرويس خان، احمد خان، اکبر خان او امان الله خان توهين کړي وي، محمد ظاهر شاه ته يي په يوه غير ملی لويه جرګه کي د ملت د بابا؟؟ لقب ورکړ. د يوه افغان سياسی شخصيت او خبريال الحاج محمد داوود د رپوټ پر اساس پخواني ټولواک او داړې يي افغانستان ته په رسيدو ګويا د خپلو غير منقولو جايدادونو او ځمکو؟ په خرڅولو پيل وکړ او ټول ټال يي د ۱۵۳ ميليونو امريکايي ډالرو په ارزش ځمکي او کورونه په پايتخت کابل او شا او خوا کي خرڅ او پيسي يي بهرنيو بانکونو ته انتقال کړلي ...؟! زه وايم ظاهر شاه به د بابا ملت په هيڅ صورت، (د ملت حقيقي بابا غازی امان الله خان دئ)، خو يو ملی قهرمان وای، چي د خپل پلار نادر خان د وژلو نه وروسته يي د عبرت په اخستلو، توبه باسلي وای او غازي اعليحضرت امان الله خان يي په پوره عزت او درنښت بيرته هيواد ته رابللی وای او شاهي مقام يي ورته تسليم کړي وای.همداء راز د دې کورنی يو بل مجرم، سردار داوود خان به هغه وخت يو ملی اتل ګڼل شوی وای، چي د خپل دولتي صلاحيت څخه په استفاده يي لوی غازی امان الله خان بيرته هيواد ته رادعوت او د بادشاهي مقام يي ورته تسليم کړئ وای. **لکه څنګه چي يو افغان ليکوال پوهندوی ښاغلی عبدالروف خپلواک، چي محمد داوود خان ته نژدې پاتي شوی، پخپلو خاطراتو کي ليکي، چي په کال ۱۹۴۲ م کي کوم وخت چي سردار داوود خان د کابل د مرکزي قول اردو قوماندان وه، ورته وړانديز شوی وو، چي د يوه پوځی حرکت په ذريعه، ظاهر شاه له قدرته لری او اعليحضرت امان الله خان بيرته له ايټاليا څخه هيواد ته رادعوت کړي، اما هغه دا اقدام نه وه منلی...!؟.** (ليکلي توضيح)

**د غازي اعليحضرت امان الله خان لويتوب او حقانيت ته همدومره کفايت کوي، چي نن د هغه عظيم انسان مخالفين او موافقين دواړه په افسوس سره وايي، چي که هغه ترقي پال او نيک فطرته زعيم له منځه نه وای تللی، نن به دا حال په افغانستان نه راتللی...؟!**

محترموافغانانو! نن زمونږ ګران افغانستان د استعمار له خوا د اوياوو زرو عسکرو په موجوديت، اشغال او مونږ افغانان خپل ملی حاکميت نلرو. زمونږ په بی ګناه ملت باندي قصابی روانه ده، او نژدې علت يي هم هغه د جرمنی د بن بی منطقه او متجاوزه غونډه وه، چي د ۲۰۰۱ م کال د دسمبر په ۲۲ دايره شوله. امريکايی او انګريزي استعمار ګرو په عمدي او پلانيزه ډول د افغانستان د نيولو او هلته د نظامي هډو لپاره د امکان د حاصلولو لپاره په قهری ذريعه د طالبانو مسلط حکومت له منځه يووړ، او له دوو مجرمواو بد نامو افغاني ډلو يعنی د شمال اتحاد جنګياليو او د ظاهرشاه د داړې څخه يي د افغان ملت په غياب کي، يو ضد و نقيض دولتي تشکيل جوړ او دري سياسی قوتونه يعنی د طالبانو د حکومت سياسی رهبران، د حکمتيار ګوند او جلال الدين حقاني يي په افغانستان کي د خپل پوځي شتون د دوام لپاره، په قصدي توګه له دې پروسې څخه محروم کړل، چي نتيجه يي نن تاسو د سر په سترګو ګورئ. پس نن دا هر څه چي په افغانستان باندي تيريږي، لومړی درجه مسؤلين او مجريان يي بهرني يرغلګر او په تيره امريکايي او انګريزي استعمارګر دي. تر څو چي په هيواد کي وسله واله جګړه روانه وي، د هيڅ مثبت بدلون انتظار بايد ونکړو. موجوده افغان حکومتي تشکيل، چي نشي کولای د خپلو وګړو امنيت تامين کړي، پس سياسي مشروعيت هم نلري. نن يو ګروپ افغانان د دې دولت پر ضد وسله واله مبارزه کوي. تر څو چي دا حکومت د افغان وسله والو مخاليفينو سره ، چي مشري يي محمد عمر آخند کوي، رښتني سولي ته غاړه کښی ندي، افغان ملت به فقطويني ورکوي او بس...؟! زه دلته خپله وينا رالنډوم، يوازي ستاسو پاملرنه زما دوو وړانديزونو ته راړوم.

د ګران افغانستان د اوسني لويي غمیزې د بنسټيز پای لپاره ما د ۴ کالو راپدې خوا افغانانو سره په تماس او خپلو ليکنو کې **مشروطه شاهي سيستم غوره** ګڼلی. د تخنيکي اړخ لپاره يي ما وړانديز کړئ چي يوه ملي افغاني لويه جرګه دي د هيواد په دننه کی راوبلل شي، پدې لويه جرګه کې بايد افغاني معلوم الحاله خاينان او هيواد پلوروونکو ته د ګډون امکان ورنکړل شي، په دې ملي مجلس کې دې د مرحوم اعليحضرت غازي امان الله خان زوی عالي جناب ډاکټر احسان الله خان (د افغانستان)،هم ګډون وال او د جرګې افتخاري مشر وي. د دې تاريخي لويې جرګې د فيصلې پر اساس دې، والاحضرت ډاکټر احسان الله خان د افغانستان د شاهي مشروطه دولت د بادشاه په حيث وټاکل شي. يو موقت حکومت او صدراعظم دې د يوه مناسب وخت لپاره چارې سمبال کړي. پدې ترتيب به نوی دولت د بهرنيو پوځونو د وتلو لپاره محل ويش تنظيم کړي او افغان ملت به د تل لپاره د **سياسی قدرت د تشي** له بلا څخه خلاص شي.
که څوک وايی، چي دا يو واهي او غيرعملي وړانديز دئ، زه وايم، نه!! دې سپيڅلی ارمان ته رسيدل د بهرنيو قواوو په موجوديت کې لا آسان دي، دلته شرط دغه دئ، چي بهرنيان بايد صادقانه دې ملی اقدام ته زمينه جوړه کړي او د جرګې په بهير کې لاس وهنه ونه کړي.
دوهم وړانديزمې رښتينو آزادي پالوونکو افغانانو ته دا دئ، چي اوس هم لا ډېره ناوخته نه ده، راځی د داسي يوه اماني سياسي ګوند په جوړښت پيل وکړو، چي بنسټ ايښودوونکی اوعمومي مشر يې د غازی اعليحضرت امان الله خان د اولادونو څخه چي اوس هم ژوندي دي، وي. زه دا د افغانستان د خپلواکي پال ملت د اوسني او راتلوونکو نسلونو لپاره يو اساسي او ډېر ارزښتناکه اقدام بولم.
مونږ د افغانستان ناکام او ملت ته ملامت ړوند اندي او روشنفکران که نور هيڅ نشو کولای، حد اقل بايد د هيواد د ژغورنې لپاره، يو سوچه اماني ګوند خو تاسيس کړو...!!
په پای کې وايم:

**درود او درنښــت د اماني استقلال د شـهيد او غـازي سـپيڅلو روحـونـو تـه،**

**مـړه او محکوم دې وي، پخواني او اوسني ملي خـاينان او افغانستان پلـوروونـکـي،**

**د مـستـقـل او خـپلواک افغانستان په لـوړ...**

**نـــا هـــيلي مــــه اووســـــــئ...!!**